## د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړې استازې د مرستیالې او یوناما د سر پرستې آغلې انګریډ هایډن لنډه وینا

*[لکه څرنګه چې وړاندې شوې]*

**۳۱ مارچ ۲۰۲۰**

*** * ***

ښاغلی رییس،

د امنیت شورا ښاغلو غړو،

داسې ښکاري چې افغانستان یوې ټاکوونکې شیبې ته د رسېدو په حال کې دی. د ایتلاف تر نږدې دوه لسیزو منځګړیتوب وروسته، اوس د اسلامي جمهوریت لپاره پوښتنه دا ده چې: آیا د دغه هیواد مشران یوې پایښت لرونکې سولې ته د رسیدو لپاره له طالبانو سره په مهمو خبرو اترو کې سره یو ځای راټولیدای شي؟ دغه انتخاب د کویډ-۱۹ د یوه ټول شموله ګواښ له خوا ستونزمن شوی، کوم چې د افغانستان د وګړو روغتیا او په بالقوه ډول د دغه هیواد ادارو ته سخت ګواښ پېښ کړی.

ښاغلی رییس،

د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې کومې چې د تیر کال د سپتمبر پر ۲۸ نېټه ترسره شوې، یوه اوږد مهاله پروسه وه. دا چې دغه ځنډ ولې رامنځ ته شوی، لاملونه یې په ښه ډول مستند شوي، خو اوس د تاوتریخوالي وخت نه دی. تر ټولو مطرح او د بحث وړ موضوع د اسلامي جمهوریت ساتل او په اساسي قانون کې د رانغاړل شویو ارزښتونو پر مخ وړل دي.

د فبروري پر ۱۸ نېټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ولسمشر غني د ټاکنو د ګټونکي په توګه اعلان کړ. ډاکټر عبد الله عبد الله، دویم زیاتې رایه ګټوونکي، دغه پایلې رد کړې او په یو طرفه ډول یې د بریا ادعا وکړه او د خپل ملي حکومت د جوړولو اراده یې اعلان کړه. د مارچ پر ۹ نېټه، ولسمشر غني او ډاکټر عبد الله د ولسمشرۍ موازي لوړې ترسره کړې. دغه کار په مختلفو برخو کې، د یوې داسې بالقوه خطرناکې تېروتنې په اړه د افغانانو او په ورته ډول د نړیوالو ترمنځ جدي اندېښنې را ولاړې کړې، کومه چې ښايي د جمهوریت د راتلونکي لپاره اوږد مهاله ناوړه اغیزې ولري.

تر دې دمه چې زه خبرې کوم، د دغه خطرناک سیاست د پای ته رسولو لپاره د کلیدي شریکانو په ځانګړې ډول د امریکا د متحده ایالاتو، سیمه ییزو فعالینو او افغان سیاسي مشرانو د هلو ځلو سره سره، دغه ستونزه دوام لري. د وضعیت جدیت د مارچ پر ۲۳ نېټه د متحده ایالاتو د هغې پریکړې له خوا په ډاګه شو چې په سملاسي ډول به د ۲۰۲۰ کال لپاره د ۱ بیلیون امریکایي ډالرو مرسته کموي او په راتلونکي کال کې هم د ورته چارې د ترسره کولو لپاره چمتوالی نیسي. د مرستندویانو پر تمویل د دولت د زیاتې اتکا په پام کې نیولو سره، د مرستو راکمول به د افغانستان د مالي وړتیا او دغه راز په هیواد کې د ټولنیزو-اقتصادي پایلو لپاره ناوړه پایلې ولري. اوس د کویډ-۱۹ په برید سره، په ډېر احتمال چې زیاتره ډونران به د خپلو وګړو اړتیاوو پوره کولو ته مخه کړي. افغانستان د نړیوالو منابعو د دوامدارې پانګونې لپاره د یوه قانع کوونکي وضعیت په ډاګه کولو ته اړتیا لري.

یوناما له ټولو افغان لورو څخه د ګډ کار غوښتنه کوي څو د افغانستان د خلکو د ښېګڼې لپاره خپل اختلافونه په سوله ییز ډول حل کړي. اوس د بیلتون/تفرقو وخت نه دی. اوس د سیاسي پوهې، پخلاینې او ټول شمولیت وخت دی. د ټولو ښځو، لږکیو او ځوانانو د حقونو په ګډون، د افغانانو ګټې باید تر هرڅه لومړی وګڼل شي.

ښاغلی رییس،

د شخړې حل د ټولو فعالینو په ارادې پورې اړه لري چې په رغنده ډول په مطرحو بنسټیزو موضوعاتو کې ګډون وکړي. دا یو دروند مسوولیت دی او د هر څه تر مخه په افغان رهبرانو پورې اړه لري. د پوهیدو وړ ده، چې شکایتونه/اندېښنې ژورې او څو

اړخیزې دي او د ټولنې پر ټولو قشرونو اغېز کوي. خو اوس ښايي د دې لپاره يو نادره فرصت وي څو دغو موضوعګانو ته رسيدګي وشي.

نو د دې پر اساس، د هڅونې وړ ده چې د سیاسي معضلې سره سره افغان اداره د مذاکراتو پر یوه ټول شموله ټیم د هوکړې کولو جوګه شوې. په دغه ټیم کې له ټولو عمده قومونو څخه استازي او د ښځو پنځه غړي شامل دي. د دې منل مهم دي چې ښځې کولای شي او باید په افغانستان کې هر ډول پايښت لرونکې او پايښونکې سولې ته په رسيدو کې ښکيلې شي. یوناما طالبان هڅولې څو په خپل مذاکراتي ټيم کې د هغو ښځو په شاملولو سره غبرګون وښايي ځوک چې د خبرو اترو پر ميز يو ځواکمن قاطع غړ لري. د دغه کار په ترسره کولو سره به يو محسوس سيګنال واستول شي چې دغه خوځښت په بنسټيز ډول اصلاح شوی.

له ټولو خواوو غوښتل کيږي چې د بين الافغاني مذاکراتو احتمال په واقعيت بدل کړي. د مذاکراتو د ټيم تر اعلان وروسته، د افغانستان اسلامي جمهوريت مهمه دنده لري چې خپل مرکچيان پر اړينو مهارتونو سمبال کړي څو له هغوي سره د اجنډا په جوړولو او د خپلو اتباعو د حقونو د خوندي کولو او طرح کولو لپاره اړين اصول جوړ کړي. دا همدارنګه د طالبانو لپاره حتمي دی څو په ډاګه کړي چې هغوي له ښه نيت سره د جګړې لپاره د يوه پاييدونکي حل د ترلاسه کولو په موخه د افغانستان له اسلامي جمهوريت سره په مذاکراتو کې داخليدو ته چمو دي.

دغه راز وروستۍ اونۍ د بنديانو د خوشې کولو په تړاو د يو لړ پرمختګونو شاهدې وې، کوم کار که چيرې په محتاطانه ډول مديريت شي، کولای شي د سولې پروسې د پيلولو لپاره د باور جوړونې يو مهم اقدام رامنځ ته کړي. د هغو واقعي لوژيستکي ننګونو سره سره چې د کوويډ-۱۹ له امله رامنځ ته شوي، د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالبانو استازو د بنديانو د خوشې کولو په اړه د خبرو اترو لپاره تر اوسه درې ويډيويي کنفرانسونه ترسره کړي. یوناما د دغه تعامل هرکلی کوي او له ښکيلو خواوو غوښتنه کوي چې د بنديانو د خوشې کولو موضوع له نړيوال قانون سره سم ژر تر ژره حل کړي.

ښاغلی رييس،

د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ د فبروري پر ۲۹ نېټه د تړون لاسليک کول په افغان جګړه کې يوه تاريخي شيبه (د عطف نقطه) وه. دغه تړون له افغانستان د نړيوالو پوځي ځواکونو د مشروط وتلو لپاره زمينه برابره کړه او له هيواد څخه د لومړۍ ډلې پر وتلو کار روان دی. د طالبانو له لوري، هغوي به د نړيوالو پوځي ځواکونو په وړاندې د تاوتريخوالي د راکمولو پر خپلو ژمنو عمل کوي. خو له دې سره سره، تيرې اونۍ په افغانستان کې د جګړې اړوند تاوتريخوالي پخوانيو کچو ته د لوړېدو شاهدې وې، چې په عمده ډول پر افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د طالبانو له خوا د بريدونو په پايله کې رامنځ ته شوی.

دغه جريان خواشينوونکی خو همدارنګه د بدلون وړ دی. تېرو څو مياشتو يو ځل بيا په ډاګه کړه، چې د ټولو ښکيلو خواوو له ريښتينې ژمنې سره په تاوتريخوالي کې د پام وړ کموالی ترلاسه کيدای شي. دغه کار د متحده ايالاتو- طالبانو ترمنځ د تړون د لاسليک کولو په مخکې موده کومه کې چې ټول هيواد په تاوتريخوالي کې د پام وړ کمښت شاهده وه، په ډاګه شو. یوناما د دې هيله لري څرنګه چې بين الافغاني مذاکرات پرمختګ کوي، دغه کار ژر تر ژره يو ځل بيا تکرار او دوامدار شي. پر دې هر څه سربيره، نړيواله ټولنه نه بايد د سولې له پروسې د افغانانو راتلونکې هيله له ياده وباسي: د جګړې يوه هر اړخيزه پای چې وکولای شي د هغوي امنيت خوندي او د هغوي حقونو ته وده ورکړي.

ښاغلی رييس،

د تاوتريخوالي زياتو کچو په جګړه کې د راګير شويو ولسي وګړو لپاره ناوړه او خواشينونکې پايلې درلودې. يوازې د دغې مياشت لپاره، موږ د جګړو او دښمنيو له امله له ۱۸۰ څخه د زياتو ولسي وګړو وژنې او زيات شمير ژوبلې ثبتې کړي. په دغې موده کې، طالبان د لوړ شمير ولسي مرګ ژوبلې مسوول دي، په اصلي ډول د غير انتحاري د لاس جوړ چاوديدونکو توکو او عمدي وژنو له امله. په داسې حال کې چې يوناما افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته منسوب شوي کم ملکي تلفات ملاحظه کړي، خو زه د مارچ د ۲۱ نېټې د پېښې په اړه چېرې چې افغان هوايي ځواک په کندز ولايت کې هوايي بريد ترسره کړ، سخته اندېښمنه يم. زموږ لومړنۍ موندنې په ډاګه کوي چې نږدې ټول وژل شوي اشخاص ښځې او ماشومان دي.

موږ همدارنګه د اسلامي دولت-خراسان ولایت ډلې له خوا ولسي وګړو ته د موجوده پېښ ګواښ په اړه سخت اندېښمن یو. دغه کار یو ځل بیا په کابل کې د هزاره توکمو د مشر پر تلین د مارچ د ۶ نېټې د غیر انساني برید له خوا په ډاګه شو، په کوم کې چې ۳۴ ولسي وګړي ووژل شول او ګڼ شمیر نور ټپیان شول. موږ همدارنګه د مارچ پر ۲۵ نېټه په کابل کې د سیکانو په درمسال کې پر عبادت کوونکو د برید له امله چې نوموړې ډلې یې مسوولیت منلی سخت قهریدلي یوو، په کوم کې چې په لسګونو ولسي وګړي ټپي او ووژل شول. د افغان ولسي وګړو په ضد له بربریت ډک بریدونه باید ودرول شي.

ښاغلی رییس،

یوناما په مکرر ډول پر دې ټینګار کړی چې له جګړې او وده کوونکو روغتیایي ناورینونو څخه د ولسي وګړو د ساتنې تر ټولو غوره لار په ټوله کې د جګړې پای ته رسول دي. غواړم د بیړني نړیوال اوربند لپاره د سر منشي غوښتنه په ډاګه کړم، څو له کویډ-۱۹ سره د مبارزې لپاره اړین تمرکز او سرچینې برابرې شي. د تاوتریخوالي هغه کمښت چې په افغانستان کې د اوربند لامل شي به ژوندونه وژغوري، د سولې د بین الافغاني مذاکراتو د ترسره کولو لپاره به مساعد چاپیریال رامنځ ته کړي او دولت به د دې وړ کړي چې خپلې هڅې د راڅرګندېدونکې روغتیایي ناورین سره د مبارزې لپاره متمرکزې کړي.

هغه خطرونه چې د کویډ-۱۹ د ګواښ له امله افغانستان ورسره مخ دی خورا زیات دي. د افغانستان د نازک روغتیایي سیستم او په لوړه کچه د زیانمنیدونکو خلکو په پام کې نیولو سره د دغه وایروس مرګوني اغیزې په ځانګړي ډول د اندېښنې وړ دي. په دې کې هغه په لوړ شمیر افغانان شامل دي چې له خوارځواکۍ څخه کړیږي، او یو بل ته په نږدې محیط کې ژوند کوي لکه داخلي بېځایه شوي خلک، او د زندان د ګڼې ګوڼې په ډک سیستم کې زندانیان او توقیفیان، او دغه راز د ځانګړو اړتیاوو درلودونکې اشخاص لکه د فزیکي معلولیت او رواني ستونزو درلودونکي اشخاص. یوه بله ځانګړې ننګونه روغتیایي پاملرنې ته د ښځو لاس رسی دی، کوم چې د معمول امنیتي وضعیت او د موجوده کلتوري نورمونو له امله لا پسې پیچلې کیږي.

د عامې روغتیا له دغو موضوعاتو سره سره، موږ همدارنګه د معیشتونو له لاسه ورکولو له امله پر کورنیو د اقتصادي او ټولنیزو اغیزو په اړه اندېښمن یو، په ځانګړي ډول د ټولنیزې ساتنې د حمایوي تضمینونو د نشتون په پام کې نیولو سره. دغه وبا او د هغې اقتصادي اغیز همدارنګه د ټولنو ترمنځ کړکیچونه د زیاتولو ګواښ رامنځ ته کوي، په ځانګړي ډول د کوچیدونکو وګړو او کوربه ټولنو ترمنځ. که چیرې دغې ستونزې ته په وخت او هر اړخیز ډول رسیدګي و نه شي، دا به د افغانستان او د دغه هیواد د خلکو لپاره خطرناکې پایلې ولري.

د دغه ګواښ له راکمونې سره د مرستې په موخه، په افغانستان کې ملګرو ملتونو د غبرګون یو پلان طرح کړي څو د کویډ وبا ته په ځواب ویلو کې د افغان حکومت له هڅو سره مرسته وکړي. دغه کار د جون تر ۳۰ نېټې پورې تر ۱۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو د تمویل اړتیا لري. غواړم په دې برخه کې له هغو ډونرانو د زړه له کومې مننه وکړم چا چې لا وار د مخه له دغې هڅې سره د مرستې ژمنه کړې. څرنګه چې سرمنشي ویلي، کویډ-۱۹ ټول بشریت ګواښي- او له همدې امله ټول بشریت یې باید په وړاندې مبارزه وکړي. له افغان چارواکو سره په نږدې همکارۍ کې، یوازې د غړو دولتونو د ګډ عمل له لارې موږ د دې هیله کولای شو چې د افغانستان پر زیانمنیدونکو وګړو د دغه نړیوال ګواښ اغیز راکم کړو.

ښاغلی رییس،

د سیاسي بې باورۍ، د سولې پروسې په پیلیدو کې د ځنډونو، زیات تاوتریخوالي او په پوره ځواک د کویډ-۱۹ مخ په زیاتیدونکې وبا یو ځای کیدل دا د افغانستان د خلکو لپاره یو خورا خطرناک وخت ګرځوي. د ټولو نړیوالو د ګټې لپاره، دغو موضوعګانو ته رسیدګي زموږ د ټولو ګډو هڅو غوښتنه کوي. غواړم په لومړۍ کرښه کې د زرګونو زړورو ځواب ورکوونکو ځانګړې قدرداني وکړم څوک چې د افغان دولت، نا دولتي ادارو، د ملګرو ملتونو او د بشرپالنې له نورو نړیوالو سازمانونو سره کار کوي. دوی د پام وړ شخصي ګواښونو سره مخ دي څو د کویډ-۱۹ د وبا د ګواښ په وړاندې افغانان وژغوري. زه همدارنګه غواړم د شورا له غړو څخه د افغانستان په ملاتړ کې د هغوی د رواني لیوالتیا مننه وکړم، کوم چې د وروستیو پېښو له امله لا زیات خطرناک او مهم ګرځیدلی. یوناما په بشپړ ډول د افغانستان د خلکو ملاتړ ته ژمنه پاتې کیږي.

مننه